Cultural Orientation Resource Exchange

Pashto Version

# د کډوالو لپاره سرچینې



## په متحده ایالاتو کې کارموندنه

په متحده ایالاتو کې کارموندنه خورا مهمه ده. د دندې موندل، ترلاسه کول او ساتل ستاسو د کورنۍ راتلونکي او هوساینې لپاره مهم دي. دا د ځان بسیا کیدو ترټولو ګړندۍ لار ده او د بریا لپاره اړینه ده ستاسو د بیا میشته کیدو اداره به له تاسو سره د کارموندنې خدماتو سره په وصل کولو کې مرسته وکړي، مګر وروسته له هرڅه باید تاسو د دندې موندلو او ساتلو کې مرکزي رول ولوبوئ. متحده ایالاتو ته په رسېدو سره باید تاسې د دندې په پیداکولو لاس پورې کړئ.

### د دندې موندل

ټول لویان، دواړه نارینه او ښځینه، چې عمرونه یې د 18 - 64 کلونو ترمنځ دي او د کار کولو وړتیا لري، باید د دندې موندلو ته لومړیتوب ورکړي. د دندې په مرسته کولی شئ چې د خپل ځان او خپلې کورنۍ ملاتړ وکړئ. د حکومت مرستې د وخت او مقدار له اړخه محدودې دي، نو ستاسو لپاره مهمه ده چې متحده ایالاتو ته له رسیدو وروسته ژر تر ژره دنده ومومئ.

د دندې پیداکول د حکومت یا ستاسو د بیا میشته کیدو ادارې لخوا نه تضمینېږي. د دندې موندل ممکن اونۍ یا میاشتې وخت ونیسي او تاسو ممکن د دندې ډېرى مرکې ولرئ تاسو باید د دندې موندلو او د مرکې د عامه لاربښوونو زده کولو لپاره د خپل ګمارنې متخصص سره کار وکړئ.

له تاسو څخه تمه کیږي چې لومړۍ دنده چې تاسو ته وړاندیز کیږي ومنئ، حتی که دا ډیر معاش ونلري یا ستاسو په کاري ساحه کې هم نه وي، تر څو تاسو وکولی شئ تجربه پیدا او د خپلې کورنۍ ملاتړ پیل کړئ. که چېرې تاسې وړاندیز شوې دنده قبوله نکړئ، نو تاسو ممکن دولتي مرستې له لاسه ورکړئ ډېرى وختونه ډېرى خلک د ورته دندې لپاره غوښتنه کوي، نو دا مهمه ده چې په نوي ساحه کې د لومړنۍ کچې دندې منلو ته چمتو اوسئ. د ښې کاري تاریخچې رامینځته کولو لپاره، تاسو باید لږترلږه 6 میاشتې په دنده کې پاتې شئ.



## په متحده ایالاتو کې د کار کلتور

متحده ایالات د هغه چا لپاره د فرصتونو هیواد په توګه پېژندل کېږي څوک چې خواري کښ کوي د غوره او یوې ښه معاش لرونکي دندې ترلاسه کولو لپاره اړینه ده چې تاسې په انګلیسي ژبه خبرې، لوستل او لیکل وکولی شئ او تاسو ممکن نوي مهارتونه زده کولو ته اړتیا ولرئ. که تاسو په خپل هیواد کې په ځانګړي مسلک کې کار کړی وي، نو مخکې لدې چې تاسو په متحده ایالاتو کې په نوموړي ساحه کې د کار کولو جوګه شئ، باید په په ټولګیو کې ګډون وکړئ او تصدیق ترلاسه کړئ. دواړه ښځې او نارینه په متحده ایالاتو کې کار کوي میرمنې د کاري ځواک نیمایي برخه تشکیلوي، په ټولو کچو د نارینه وو په څېر ورته دندې ترسره کوي، او ډېری وختونه د نارینه کارګرانو نظارت کوي. په متحده ایالاتو کې، شاوخوا 14 کلن او له دې څخه د پورته عمر لرونکي ماشومان کولی شي د نیم وخت کارونو کې کار وکړي، مګر دوی ممکن د ساعتونو په شمیر کې او د دندو ډولونه چې دوی یې ترسره کولی شي محدود وي. په متحده ایالاتو کې ډېری ځوانان د ښوونځي وروسته، د اونۍ په پای کې او د رخصتیو پرمهال نیمه وخت کار کوي متحده ایالات د ځوانو کارګرانو ساتنې لپاره قوانین لري.



## د کار حقونه او مسؤلیتونه

په متحده ایالاتو کې، کارکوونکي د کار ځای کې حقونه او مسؤلیتونه لري. تاسو حق لرئ چې ستاسو د کار لپاره پیسې درکړل شي او د کارموندنې قوانین کارګران د غیر خوندي کاري شرایطو څخه ساتي. دا هم مهم دي چې په متحده ایالاتو کې خپل مالیه ورکړئ.

یو کارګمارونکی نشي کولی چې ستاسو د مهاجرت حالت په سبب له تاسې سره توپیریز چلند وکړي یا ستاسې د عمر، معلولیت، مدني حالت، توکمیز یا ملي اصل، نژاد، دین، جنسیت یا جنسي تمایل له امله تاسې ته د دندې درکولو یا د مخکې تګ څخه مخ واړوي. په هرصورت، ځینې دندې، په ځانګړي ډول دولتي دندې، یواځې د متحده آیالاتو اتباع ترلاسه کولی شي.

کارګران حق لري په داسې چاپېریال کې کار وکړي چې له تبعیض او ځورونې څخه هم پاک وي جنسي ځورونه د جنسي طبیعت هر ډول هغه چلند ته ویل کېږي چې یو څوک د ویرې یا نا آرامۍ احساس کوي او دا په کاري ځای کې د زغملو وړ ندي.




# په مکرر ډول پوښتل شوي پوښتنې

## ایا زه به د دندې موندلو کې مرسته ترلاسه کړم؟

ستاسو د بیا میشته کیدو اداره به تاسو د کارموندنې خدماتو سره وصل کړي چیرې چې تاسو بیا میشته کیږئ، مګر تاسو به د دندې موندلو او ساتلو کې لوی رول ولوبوئ. په متحده ایالاتو کې د دندې موندل مهم دي، او ستاسو لومړۍ دنده شاید په ورته مسلک یا ساحه کې نه وي لکه ستاسو په هیواد کې ستاسو دنده. دا ممکن د لومړنۍ کچې، غیر مسلکي، او ممکن حتی لنډمهاله یا نیم وخت دنده وي. لکه څرنګه چې په متحده ایالاتو کې د ژوند لګښت خورا لوړ دی، نو له همدې امله د نارینه او ښځینه دواړو لپاره له کوره بهر کار کول معمول او اړین دي.

## زه به خپلې دندې ته څنګه ورسیږم؟

عامه ترانسپورټ د متحده ایالاتو په ډېری ښارونو کې شتون لري موټرونه د بیا میشته کیدو پروسې برخې په توګه نه چمتو کېږي له همدې امله، تاسو اړتیا لرئ خپلې لومړۍ دندې ته د تګ لپاره په عامه ترانسپورټ تکیه وکړئ.



JOHN LOK/IRC


**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor • Silver Spring, MD 20910


For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.


The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government.


**This material is in the public domain and may be reproduced.**